**له بنده سره د الله د مينې نښې**

په احاديثو کې له بنده سره د الله د مينې نښې په لاندې توګه ذکر شوې دي:

**۱- د دنيا په وړاندې ملاتړ:** الله د هغې مينې پر بنسټ چې له خپل مومن بنده سره يې لري، هغه له دنيا څخه داسې ساتي لکه تاسې چې خپل مريض د ناروغۍ د انديښنې په خاطر له خوړلو او څښلو څخه ساتئ. (بيهقي)

**۲- ديندارۍ:** الله که له چاسره مينه لري او که يې نه لري، دنيا ورکوي، خو دين يوازې هغه چا ته ورکوي چې مينه ورسره لري، نو هغه څوک چې الله دين ور په برخه کړ، په حقيقت کې مينه ورسره لري. (رواه احمد)

**۳- ستونزې او ازموينې:** څوک چې ډير ثواب وړي، همغومره سخت آزموينښت پرې راځي. کله چې الله له کومې ډلې سره مينه وکړي نو بيا يې په آزمينښت کې اچوي. نو څوک چې په هغه سره راضي شول الله به ورنه راضي شي او څوک چې پرې ناراض شول الله به ورنه ناراض شي. (ترمذی)

**۴- له هغه سره د خلکو محبت:** څرنګه چې پورته په حديث کې ذکر شول.

**۵- نرمي او مهرباني:** کومې کورنۍ ته چې الله جل جلاله د خير اراده وکړي، نو په هغوی کې نرمي او مهرباني اچوي. (احمد)

**۶-نيکه پايله:**کله چې الله له بنده سره مينه وکړي، نو هغه خوږ ګرځوي، پوښتنه وشوه: خوږ ګرځول څه معنی؟ ويې فرمايل: د مړينې په وخت کې هغه ته د نيکو چارو توفيق ورکوي، ترڅو يې نږدې خلک ترې خوښ شي.(حاکم)

**څرنګه د الله د مينې وړ شو؟**

۱- د رسول الله ﷺ پيروي: (قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ...)(آل عمران۳۱) (ووايه:که تاسې له الله سره مينه کوئ، نو زما پيروي وکړئ تر څو الله له تاسې سره مينه وکړي او ګناهونه مو وبښي.)

۲-له مؤمنانو سره نرمي، له کافرانو سره سختي، د الله په لارکې جهاد او د ملامتيونکو له ملامتي وېره نه کول:څرنګه چې دمائدې په ۵۴آيت کې راغلل.

۳-په فرايضو التزام او پر نوافلو پابندي: وړاندې په حديث کې يادونه وشوه.

۴- د الله په خاطر خپل منځي مينه:رسول اللهﷺ په قدسي حديث کې فرمايي: الله فرمايي: يقينا زما محبت د هغو خلکو په برخه شو چې زما په خاطر يو له بل سره مينه کوي،زما پخاطر يو له بل سره ليده کاته کوي، زما په خاطر يو پر بل مال لګوي او زما په خاطر يو له بل سره اړيکې ساتي. (رواه احمد)

۵- له الله سره مينه او خلک د هغه لور ته رابلل: رسول الله فرمايي: يقينا زه داسې کسان پيژنم چې نه خو انبيا او نه هم شهيدان دي، خو د قيامت په ورځ انبيا او شهدا د هغوی په منزلت غبطه کوي. دوی داسې کسان دي چې له الله سره مينه کوي، او خلک د الله مينې ته رابلي، دوی د الله طاعت ته رابلي او کله چې د الله طاعت وکړي، الله هم له هغوی سره مينه کوي. (الهيثمي)



۶- الله درې ډلې خوښوي، ترې راضي دی او دجنت زيرې ورکوي:۱- هغه چې په يوازې ځان د الله په خاطر د دښمن له صف سره جګړه کوي، يا وژل کيږي يا هم الله ورله کفايت کوي او بريا مومي. الله فرمايي: زما بنده ته وګورئ چې څرنګه په خپل ځان سره صبر کوي.۲- هغه چې ښکلې مېرمن او نرم پالنګ لري، خو شپه الله ته په عبادت ودريږي، الله فرمايي: دې سړي خوندونه پريښودل او زما عبادت کوي، اوکه يې غوښتي وای نو ويده کيدای هم شوای.۳- هغه چې له کاروان سره د شپې سفر کوي او بيا ټول ويديږي، بيا دی سهارمهال پاڅيږي او په خورا ويره او هيله د الله عبادت کوي.(طبراني)

**هغه کسان چې الله جل جلاله ورسره مينه کوي:**

قرآني آيتونه شاهدي ورکوي چې الله له لاندې خلکو سره مينه لري:

۱- د رسول الله پيروي کونکي (آل عمران۳۱) ۲- متقيان (آل عمران ۷۶)

۳- نيکي کوونکي يا محسنين(آل عمران۱۴۸) ۴- صابرين (آل عمران۱۴۶)

۵- پر الله توکل کوونکي (آل عمران ۱۵۹) ٦- عدالت کوونکي (المائده ۴۳)

۷- پاکان او توبه کوونکي (بقره ۲۲۲) ۸- د الله د لارې مجاهدين (صف ۴)

**هغه کسان چې الله جل جلاله مينه نه ورسره کوي:**

قران کريم هغه خلک چې الله ورسره مينه نه کوي، په لاندې توګه اعلانوي:

۱- کافران (آل عمران ۳۲) ۲- تيري کوونکي (بقره ۱۹۰)

۳- ظالمان (آل عمران ۱۴۰) ۴- مفسدين (مائده ٦۴)

۵- اسراف کوونکي (انعام ۱۱۴) ٦- متکبرين (النحل ۲۳)

۷- ناشکره بدکاران (بقره۲۷٦) ۸- مغرور فخرکوونکي (نساء ۳٦)

۹- خائن، ناشکره، او په ګناه روږدي انسانان (نساء ۱۰۷-حج ۳۸)

## د اصلاح پيغام لړی

- د اصلاح پيغام د اسلامي دعوت د خپراوي په موخه په هرو پنځلسو ورځو کې په پښتو او دري ژبو چاپيدونکې لړۍ ده چې وړيا ويشل کيږي.
- دا پيغام بيلابيل ديني او ټولنيز موضوعات د ارزښت په اندول تر پوښښ لاندې راولي او د اسلام په رڼا کې يې د حل لارې وړاندې کوي.
- د اصلاح پيغام ۱٦ ګڼه (د ۱۳۹۰کال لومړۍ ګڼه) په يوه وخت کې په کابل، کندهار، ننګرهار او بلخ ولايتونو کې په ٦۰۰۰۰ تيراژ چاپ شوه.
- **د ويش بيه:** د اصلاح پيغام غړي د خپل وس په کچه پيغامونه د پيسو په مقابل کې تر لاسه کوي او بيا يې په وړيا توګه ويشي چې دا د الله په لار کې د ايثار عملي تمرين دی، اوس مهال پيغام ۲۵۰ دعوتګر غړي لري.
- دا پيغام په پوهنتونونو،ښوونځيو، کورسونو، جوماتونو، بازارونو... کې ويشل کيږي او همدا راز د ايميل له لارې ۳۰۰۰ هيوادوالو ته رسيږي.
- **ستاسې ونډه:** هيله ده تاسې هم د خير پدې لړۍ کې له موږ سره يوځای شئ.



جمعيت اصلاح افغانستان

دځوانانو څانګه



وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِى آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَ فَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً. (اسرا ۷۰)

# الله له تا سره مينه لري

۱٦

د اصلاح پيغام لړی

د اړيکو لپاره

پته:کابل،خوشحال مينه،د شاداب ظفر بلاکونو تر شا، د جمعيت اصلاح دفتر

د انټرنټ په پاڼو: اصلاح آنلاين ويپاڼه: www.eslahonline.net

د هوا په څپو: اصلاح غږ راډيو ۱۰۴.۳ FM

برېښناليک: Payamislah@gmail.com

د موبايل شمېره: ۰۷۹۴٦٦۸۸۲٦

دا پيغام آيات او احاديث لري، هيله ده په مناسب ځای کې يې وساتئ